# آیا تاسو پناه غوښتونکی یاست؟


# آیا په خپل کیس کی مرستی ته اړتیا لرئ؟

## قانونی استازیتوب څه شي دی؟

- یو ان اچ سی آر یو شخص ته چی د پناه غوښتنی لپاره عریضه کوی د دی اجازه ورکوی ترڅو یو وکیل ولری چه په کیس کی ورسره مرسته وکړی.
- دا خوښه د کیس په هره مرحله کی لرئ ، د لومړئ ځل لپاره او د اپیل (استیناف غوښتنی ) په دوره کی.
- دا اړینه نده چی د خپل کیس لپاره وکیل ولرئ.

## د مها جرت او پناه غوښتنی پروسه (M.A.P)

- (M.A.P) یوه انیجو ده چی قانونی مرستی د هر ملیت پناه غوښوتونکو سره ترسره کوی.
- (M.A.P) یواځینئ اداره ده چه د یو ان اچ سی آر له خوا اجازه لری ترڅو قانونی استازیتوب خدمتونه وړاندی کړی.
- (M.A.P) د یو ان اچ سی آر او هرې یوی دولتی اداری څخه په بشپړه توګه خپلواکه ده.
- ټول سپارل شوی معلومات(M.A.P) سره خوندي دی او خوندي به وساتل شی.
- ټول ترسره شوی خدمتونه د (M.A.P) له خوا په بشپړ ډول وړیا دی.
- (M.A.P) د مها جرینو سره په بل هیواد کی د ځای پر ځای کیدو(ریستل مینټ) په پروسه کی مرسته نکوی.





د اړیکو شمیری : +۹۱-۹۷۱۱۱۲۸۶۰۳ / ۰۱۱-۴۱۳۲۵۴۰۸ (د سهار له ۱۰:۰۰ بجو څخه ترمازدیګر ۵:۰۰ بجو پوری)

ایمیل: **cases@aratrust.in** ویب سایت: **www.migrationandasylumproject**

## آیا تاسو مهاجر یا پناه غوښتونکي یاست؟

## آیا تاسو د خپل کیس لپاره مرستی او لارښوونی ته اړتیا لرئ؟

1 - هر څوک چی د مهاجرینو په چارو کښی د ملګرو ملتونو دفتر یو این ایچ سي آر ته د پناهندګی لپاره ورځي نو د مهاجرت د قانون له مخی حق لري تر څو د خپل کیس لپاره وکیل و نیسي ،د وکیل لرل ستاسو خپل انتخاب دی تر څو د هغه د نیولو یا نه نیولو په هکله پریکړه وکړئ او دا یو اجباري کار نه دي.

2 - د محاجرت او پناه غوښتني پروژه (M.A.P) یو داسي اداره ده چي د مهاجرینو ملیت ته له پاملرنی پرته هغه محاجرین چه د یو این ایچ سي آر دفتر ته مراجعه کوي تر څو حقوقي مشوری ورکړي او د کیسونو په نمایندګی کښی د هغوئ مرسته وکړي.

3 - (M.A.P) یواځینی اداره ده چی د یو ان اچ سی آر سره قرارداد لري ترڅو پناه غوښتونکو ته قانوني استازولي خدمات وړاندي کړي.

4 - د (M.A.P) دفتر د مجربو وکیلانوله ټیم څخه جوړ شوی چی نه یواځی د مهاجرت له قانون ا و د یو این ایچ سي آر د سازمان د کړنلاری په هکله کافي معلومات لري بلکی له کلونو راهیسی مهاجرینو ته د حقوقي مرستو په رسولو کښی کافي عملي تجربه هم لري.

5 - د (M.A.P) دفتر ټولو مرستو غوښتونکو خصوصا میرمنو ، ماشومانو، سپین ږیرواو هغو کسانو ته چی له ستونزو سره مخامخ آرا دي هرکلی وایي او د هغوی په خدمت کښی دي.

6 - د (M.A.P) دفتریواځی د پناه غوښتنی د کیسونو (نوي کیسونو ، رد شوي کیسونو او تړل شوي کیسونو) په برخه کښی حقوقي مرستی کوي.

7 - د (M.A.P) دفتر یوه ګټه نه اخیستونکي مؤسسه ده او ټول خدمات یی مفت دي.

8 - د (M.A.P) دفتر یو نا پییلی سازمان دی، د کوم دولت یا د یو این ایچ سي آر د سازمان پوری تړاو نه لري.

9 - ټول هغه معلومات چی ستاسو پواسطه د (M.A.P) دفتر ته ورکول کیږي زمونږ سره پټ پاتی کیږي او ستاسو د اجازی په صورت کښی له یو این ایچ سي آر، سلیک او ډان باسکو سره شریکیږي .

10 - د (M.A.P) دفتر به په لومړي ملاقات ( انټرویو) کښی ستاسو د کیس له پلټنی وروسته تاسو به خبر کړي چی آیا مونږ کولای شو تاسو سره حقوقي مرسته وکړو که نه ، متاسفانه چی (M.A.P) له ټولو کیسونو سره مرسته نشو کولای.


Address: B 41 (1st Floor), Soami Nagar, New Delhi - 110017
Phone: +91 9711128603; +91 11 41325408 Email: office@aratrust.in
Website: www.migrationandasylumproject.org

11 - که (M.A.P) ستاسو کیس واخلي نو په لاندینی مواردو کي به خدمات وړاندي کوي الف: د یو این ایچ سي آر د ثبت او راجستر د فورمی ډکول لومړي ملاقات او اپیل ب : د یو این ایچ سي آر په دفتر کښی د انټرویو پر مهال ستاسو سره اوسیدل. ج : ستاسو د کیس په لیکلو کښی مرسته کول ، حقوقي استدلالات او د یو این ایچ سي آر دفتر ته د هغی تسلیمول. د : په هندوستان کښی ستاسو د حقوقي وضعیت او موقعیت به هکله عمومي مشوری. ذ : ستاسو په استازي توب ستاسی د کیس څارل او حال معلومول .

12 - د (M.A.P) دفتر ستا سی د کیس د مثبتی لاسته راوړنی ضمانت نه کوي مګر تر وروستۍ کچی هڅه کوي تر څو ستاسو د پناه غوښتنی عریضی په ځواکمن او مؤثرډول د یو این ایچ سي آر دفتر ته تشریح کړي.

13 - د (M.A.P) دفترستاسی د کیس په هکله د یو این ایچ سي آر د وروستۍ پریکړی پوری له ستاسو سره حقوقي مرسته کوي .

14 - (M.A.P) د دریم هیواد ته د تګ یا رسټلمنټ خدمات نه وړاندي کوي.

15 - تاسو کولای شئ د دغی ټلیفون شمیری 9711128603 / 41325408 په ګټه هره ورځ د سهار له لسو بجو څخه د ماذدیګر تر شپږو بجو پوری زمونږسره اړیکه ونیسئ. زمونږ ایمیل aratrust@cases.in زمونږ د ویب سایټ آدرس: www.migrationandasylumproject.org